“پاکوالی د ایمان یوه برخه ده ”

د حدیث شرف مفهوم

۱۳۹۹/۰۶/۲۵

# د افغانستان اسلامي جمهوریت

## د چاپیریال ساتني ملي اداره

## د چاپیریال ساتني اړوند د مقالو سیالی

د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا دککړتیا عوامل
او د هغوی حل لارې!

Musharaf Khan Shinwari
د کابل طبي پوهنتون د معالجوي طب د دریم صنف زده کړیال

# د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا عوامل او د هغو حل لارې

مقدمه:

په اوسنی زمانه کې نړۍ په ټولو ډګرونو کې د ډېرې پرمختیا ګواه ده، انسانانو د خپل عقل او منطق په اساس وکولای شول حتی سپوږمۍ ته سفر وکړي، د سمندر لاندې په موندنو بوخت شي، ډله یزې وژونکې وسلې او مهمات تیار کړي او همدارنګه مادي نړۍ په هر ډګر کې تر ډېره پرمختګ کړی دی، د پرمختګونو په نړۍ کې د چاپېریال ساتنې موضوع یوه مهمه موضوع ده چې لا ډېرو لاسته راوړنو او پرمختګونو ته اړتیا لري.

سره لدې چې انسانانو په ډېرې برخو کې لازم پرمختګونه کړي اما تر اوسه هم د چاپیریالي او اقلیمی بحرانونو په برخه کې ډېری ستونزې بې حله پاتې دي، چې د ځمکې د کرې پر سر ژوند ته یو ستر ګواښ پیښولای شي.

د نړۍ چاپیریال د اقلیمي تغییراتو، د ځمکې د کرمېنت، د هوا د ککړتیا او سیلابونو له آمله په اوسنیو حالاتو کې له بل هر وخت څخه ډېر تر خطر لاندې دی، د هوا ککړتیا د نړۍ په کچه د مړینې د څلورم لامل په توګه پېژندل شوې ده چې هر کال په منځنۍ توګه د څه کم ۵،۵ میلونو انسانانو ژوند له ګواښ سره مخ کوي.

د هوا د ککړتیا ستونزه یواځې زموږ په هیواد کې نه بلکه د یوې نړیوالې ستونزې په څېر پیژندل شوې ده، د نړیوال بانک د کلنې راپور پر بنسټ هر کال تقریبا 8.2 میلونه انسانان له بیلابیلو جامدو سون توکو لکه د ډبرو سکارو او لرګیو څخه د پخلي او د ځان د ګرمولو په موخه ګټه پورته کوي چې د همدغه توکو کارونه د هوا او چاپیریال د ککړتیا ستر لامل دی.

## د هوا ککړتیا څه شی دی؟

په هوا کې د اضافي موادو شتون د هوا ککړتیا ګڼل کیږي چې اکثرا یاد اضافي مواد د انساني فعالیتونو په ترڅ کې تولیدیږي. په هوا کې هر ډول کیمیاوي، فزیکي او بیولوژیکي تغییرات کولی شي د هوا د ککړتیا لامل وګرځي، د هوا د ککړتیا اصلي عوامل بیلابیل دي او هر کله چې مضره ګازات، ګرد، دوړې او کیمیاوي مواد د ځمکې جو یا فضا ته آزاد شي د هوا د ککړتیا لامل ګرځي، یاد حالات د انسانانو، بوټو او ژویو ژوند د بیلابیلو خطرونو سره مخامخ کوي.

په تولنیزو رسنیو کې مو همیشه د ککړتیا د بیلابیلو ډولونو په اړه اورېدلي: لکه د اوبو ککړتیا د ښاري چاپیریال ککړتیا او ځیني نور، مګر د هوا ککړتیا د ککړتیاو یو ډول دی چې یواځې د بند محیط او یا هم د خلاص (ازاد) محیط د هوا د ککړتیا لپاره استعمالیږي.

د هوا ککړتیا ډېری وختونه د ژمي په موسم کې د سون توکو لکه د ډبرو سکارو، پلاستیکونو، ټایرونو او ځینو نورو توکو د ډېر استعمال له امله مینځ ته راځي، چې د هوا همدغه ککړتیا یواځې په کابل کې هر کال د ۳ زرو انسانانو ژوند اخلي.

په ښارونو کې د نفوسو ډېروالی، د نقلیه وسایطو ډېربښت، د کثافاتو د لمنځه وړلو لپاره د امکاناتو نه شتون، په فابریکو کې د دود لرونکو موادو څخه ګټه اخیستنه، د خښتو بټۍ او نانوایې، د خلکو نه پوهاوی او په ښارونو کې د شنې ساحې نشتون په افغانستان کې د هوا دککړتیا اصلي عوامل ګڼل شوي دي.

د افغانستان د چاپیریال ساتنې په قانون کې د چاپیریال ساتنې ملي ادارې ته دوه اساسي دندې ورسپارل شوي دی :

۱: د چاپیریال ساتنې په برخه کې د تقنیني اسنادو برابرول

۲: د چاپیریال پر حالت نظارت

په غیار معیاري توګه د حمامونو، هوټلونو، داشونو او صنعتي فابریکو جوړل د هوا په ککړتیا لا ورزیاتوي چې له همدې امله په تېر کال کې د امریکا د هوا پیژندنې یوې اداري «Air Visual» کابل د ۳۵۳ ملی مایکرون ذرو په درلولو سره د نړۍ یو تر ټولو ککړ ښار اغلان کړ، د دغه راپور له خپریدو وروسته د افغانستان د چاپیریال ساتنې ملي اداري اعلان وکړ چې د هوا د ککړتیا د کموالي په برخه کې یې لازم پلانونه جوړ کړي او ډېر ژر به د اجرا تر مرحلي ورسیږي.

## د ککړتیا ډولونه

په عمومي ډول ککړتیا په دوه ډوله تقسیم شوې د ه :

۱: لمړنۍ (ابتدايي) ککړتیا: په لومړنۍ ککړتیا کې ککړونکي توکي په مستقیم ډول د ککړتیا لامل ګرځي لکه د ګوګوردو تیزاب چې په مستقیم ډول د هوا د ککړتیا لامل ګرځي.

۲: دویمه (ثانوي) ککړتیا : په دغه ډول ککړتیا کې ککړونکي توکي په فضا کې د یو شمېر تعاملاتو څخه وروسته د هوا د ککړتیا لامل ګرځي لکه C.F.C چې د یو لړ تعاملاتو وروسته د هوا دککړتیا لامل ګرځي.

## په عمومي توګه د هوا د ککژتیا اصلي عوامل:

### ❖ د فوسیلي سون توکو سوځیدنه

- ✓ د ګوګردو تیزاب یا سلفوریک اسید چې د دغو موادو له سوځولو څخه هوا ته آزادیږي د هوا د ککړتیا د اصلي عواملو څخه شمېرل شوی دی همدارنګه د نفتو د سون له وجهې یوه اندازه مضر ګازات هوا ته ازادیږي چې د افراطي استعمال په صورت کې د جدي ستونزو د رامنځته کیدو لامل کیدای شي.

### ❖ کرنیز فعالیتونه:

- ✓ د کیمیاوي سرو(کود)، حشره وژنکو او آفت وژنکو درملو استعمال په کرنیزو محصلواتو کې د هوا په ککړتیا کې د پام وړ ونده اخلي همدارنګه دغه مواد د هوا تر څنګ د اوبو د ککړتیا لامل هم دي .

### ❖ د صنعتي فابریکو ګازونه(غازونه)

- ✓ صنعتي فابریکې یوه اندازه زیاد کاربن مونو اکساید، هیدرو کاروبن او یو شمېر نور کیمیاوي مواد هوا ته ازادوي چې د هوا په ککړتیا کې ستره ونده لري.

### ❖ کانونه

- ✓ د کانونو د کیندلو په وخت کې دوړې، ګردونه او یو شمېر کیمیاوي مواد ازادېږي هوا ته ننوځي چې د هوا په ککړتیا کې یې رول مهم ګڼل شوی دی.

### د کابل په ښار کې د هوا د ککړتیا اصلي لاملونه :

- ➢ د چاپېریال ساتنې د قانون، مقرراتو او پالیسیو نه عملي کېدل
- ➢ د غیر معیاري توکو سوځېدنه (بې کیفیته نفت، د ټایرونو او پلاستیکونو سوځول .......)
- ➢ د سړکونو ستونزې (ډېرى سړکونه خام دي چې په پایله کې ګرد او دوړې هوا ته پورته کیږي)
- ➢ د کانالیزاسیون د منظم سیستم نشتون
- ➢ د شنې سیمې نشتون او په ډېرى سیمو کې د ونانیو جوړول
- ➢ د هوا د ککړتیا دمخنیوی په برخه کې د خلکو نه همکاري
- ➢ د کثافاتو ډېروالی او د هغوی څخه د بیا ځلې استفادې د کارخونو کمښت
- ➢ د منظم نقلیه سیستم نشتون

د افغانستان د چاپېریال ساتنې ملي اداري لخوا په خپرو شویو راپوروونو کې په ډاګه ښکاري چې په هوا کې د مغلقو ذراتو شمېر د هغه نورمال شمېر څخه چې د روغتیا نړیوال سازمان لخوا نشر شوی څو ځلې لوړ دی، په هغه راپور کې چې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په ورستیو کې خپور شو جلال الدین ناصري د افغانستان د چاپېریال ساتنې ملي اداري یو مقام په ډاګه کړې چې د کابل ښار په هوا کې د هغو مغلقو ذراتو شمېر چې حجم یې له 2.5 مایکرون غټ دی له ۲۰۰ بیا تر ۶۰۰ مایکرو ګرامو پورې رسیږي دا په داسې حال کې ده چې د نړیوال سازمان لخوا په خپاره شوی راپور کې صحي هوا هغه ده چې د یادو ذرو شمېر یې له ۲۵مایکرو ګرامو څخه کم وي.

د هوا پیژندنې پوهان ټینګار کوي چې د ژوند په صنعتي کیدو سره په هوا کې د مغلقو ذراتو شمېر ورځ تر بلې په ډېریدو دی چې د ټولنې ټولو وګړو په ځانګړي توګه ماشومانو، سپین ګیرو، میندوارو میرمنو او هغوی ته چې د زړه ناروغۍ لري همېشه د یو ستر ګواښ په څېرد هغوی ژوند ګواښي.

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت څخه په خپرو شویو راپورنه کې ویل شوي چې د هوا ککړتیا د خلکو تر مینځ د سرطاني ناروغیو د ډېروالي لامل ګرځیدلي چې په هیواد کې په منځنۍ توګه هر کال ۲۰ زره انسانان په سرطاني ناروغیو اخته کیږي چې د هغوی له ډلې څه کم ۱۶ زره ناروغان خپل ژوند له لاسه ورکوي، د عامې روغتیا وزارت همدارنګه په میرمنو کې د سینې سرطان د زیاتوالي لامل د هوا ککړتیا ښودلې ده چې هر کال د ۳۵۰۰ اخته ناروغانو له ډلې څخه تقریبا د ۵۰ ناروغانو ژوند ورڅخه اخلي، همدا رنګه یاد وزارت یادوي چې د هوا ککړتیا د تنفسي، قلبي، سترګو، پوستکي او ولادي ناروغیو لامل ګرځي.

د افغانستان په لويو ښارونو کې د هوا ککړتیا د یوه لوی معضل په توګه همېشه د ښاریانو د ژوند عادي روال له ستونزو سره مخ کړی دی، له تېرو لسیزو راپدېخوا د تولنیز امنیت د نشتون له امله له کلیو او باندېو څخه زموږ یو شمېر زیاد وطنوال په مجبوره توګه له خپلو ځای مېشتو سیمو څخه لويو ښارونو ته کډن شوي چې له امله يې په ښارونو کې د هوا د ککړتیا تر څنګ یو څه نورې ستونزې هم زیږولې دي.

په لويو ښارونو کې د هوا د ککړتیا اصلي عوامل د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه وګړو کم پوهاوي او نه همکاري، په حماموټو کوروټو داشونو او هوټلونو کې د کاربن د فلتر د آلو نشتون، په يادو ځايونو او همدارنګه د په کورونو کې د بې کيفيته سوختي موادو استعمال او همدارنګه په نقليه وسايطو کې د بې کيفيته نفتي موادو استعمال په ګوته شوي دي.

## د هوا د ککړتیا څخه دمخنیوي حل لارې

### د خلکو عامه پوهاوي :

دا چې د افغانستان اکثره وګړي له تعلیم څخه بې برخي پاتي دي او د هوا د ککړتیا یو ستر عامل هم د همدغه خلکو نه پاملرنه ده، نو تر ټولو د مخه باید د رسنيو، د خطیبانو د خطبو او نورو ټولنيزو رسنيو په واسطه خلکو ته پاکې هوا ګټې، د ککړې هوا زیانونه او همدا د چاپیریال ساتنې په برخه کې د هغوي مسولیتونه هغوی ته په ګوته شي.

### د بیا ځلي ګټه اخیستونکو انرژيکي سرچینو څخه ګټه اخیستنه :

د بیا ځلي ګټه اخیستونکو سرچینو لکه : د اوبو انرژی، لمریزه انرژی، بادي انرژی او نورو انرژیو څخه ګټه اخیستنه ددې لامل ګرځی چې تر ډېره حده د د هوا او چاپیریال دککړتیا مخه ونیسي.

### د خلکو لخوا د چاپیریال د پاکوالي لپاره دودیز اشرونه :

دا د چاپیریال ساتنې په برخه کې د خلکو ونډه د هېریده نده، ځکه خو د خلکو لخوا دودیز اشرونه د ښار او هوا په پاکوالي کې یو ستر رول لوبولی شي.

### د حکومت لخوا د هوا د ککړتیا د مخنیوۍ په موخه لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه :

حکومت مکلف دی چې د هوا دککړتیا د مخنیوي او د منځه وړلو په برخه کې اوونیز، میاشتیني او کلنیز پلانونه عملي کړي تر څو د هوا د ککړتیا مخنیوي وکړي او تر ممکن حده د شته ککړتیا په له منځه وړلو کې کوښښ وکړي.

### د سون توکو په لویو ګټه اخیستونکو د لوړو مالیو وضع کول :

حکومت مکلف دی چې د خپلو ادراو د لارې د هوا د ککړتیا اصلي سرچینې پیدا اوهغه بندي، جریمه او یا د لوړو مالیاتو ورکولو ته اړ کړي تر څو د هوا د ککړتیا مخه ونیسي، په دغه کار سره تر ممکن حده د سوختي توکو د ډېر استعمال مخه ډب کیږي او د هوا د ککړتیا پروسه بطي کیږي(سستیږي).

په بندرونو کې د بې کیفیته سون توکو او تیلو د وارداتو مخنیوی :

په هغه تجارانو چې بې کیفیته سوځونکي مواد واردوي د نغدي جریمو وضع کول او د لنډ او اوږد مهال لپاره د هغوی د تجارتي اسنادو مستردول د هوا د ککړتیا د مخنیوی په برخه کې یو ګټور اقدام دی.

د حکومت لخوا په دوامداره توګه د وارداتي او داخلي سون توکو د کیفیت ارزونه :

حکومت باید د سون توکو د ارزونې لپاره منظم پلان ولري تر څو د غیر معیاري سون توکو د سوخت څخه مخنیوي وکولای شي.

د رسنیو لخوا د چاپېریال ساتنې په اړه د ځانګړو خپرونو نشرول :

لکه څرنګه چې معلومه ده رسنۍ د یوه هیواد د یوې لوی طلاعاتي مرکز په توګه خپله ستره دنده ترسره کوي، د همدې امله په ټولنیز پوهاوي کې د رسنیو رول ډېر باارزښته ګڼل کیږي. د یادو خپرونو له لارې خلکو ته د چاپېریال د ککړتیا زیانونه او د پاک چاپېریال ګټې بیانول د دې لامل ګرځي چې خلک د خپل چاپېریال  په ساتنه کې تر ډېره حده کوښښ وکړي.

د شنو سیمو ډېروالي :

خلک او حکومت باید د هوا د پاکوالي په خاطر په ټولو خالي ځمکو کې بیلابیل شنه نیالګي کینوي تر څو د هوا د ککړتیا مخه ونیسي.

د میوجاتو او سبزیجاتو څخه ګټه اخیستنه :

د هوا د ککړتیا په صورت د تنفسي او قلبي ناروغیو څخه د ځان ژغورنې په موخه باید د تازه میو او سبزیو څخه ډېره ګټه واخیستل شي تر څو د یادو ناروغیو د پیداینت احتمال تر ممکن حده را کم کړي.

**سرچینې:** پورتنۍ مقاله د لاندې انترنتي سایټونو څخه په استفادې لیکل شوې ده


1: https://8am.af/kabul-polution-and-solutions/

2: خبرگزاری صدای افغان(آوا) کابل

3: https://p.dw.com/p/3VLuc

4: www.irna.ir/news/83506558/

5: www.irna.ir/news/83138614/

6: WWW.GMIC.gov.af

7: کتاب انسان و محیط زیست

8: DW.COM